مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند ۲۰۲۲/۰۹/۰۶

# «سړ مې زنګ د ښونځي اورېدای نه شم»

پـه بادشاهۍ دی ډزې وشه
د مکتبو جینکۍ کور کې ناستې دینه

*****

«... غبرګ غوږونه مې کاڼه دي

سړ مې زنګ د ښونځي اورېدای نه شم

سړ پر لور د رڼا پل ایـښودی نه شم

سړ مې دواړه پښې پـرې دي

سړ مې بندې د مکتب شنې دروازې دي

اخې زړه کې مې د درد ستنې کړې دي...»

آمنه فنا

ښايي په اوسنی زمانه کی افغانستان یوازینی هېواد وي چې عمداً ښوونځی په کی تړل کېږي. سره له دې چې ترشپږم ټولګي پورته د نجونو د ښوونځیو د پرانستل کېدو یو ځرک لګېدلی دی؛ خو د نوي نسل د روزنې پلویان وايي چې په عام ډول په ټول افغانستان کې، تر شپږم ټولګي پورته د نجونو د تعليم مسأله تراوسه هم ګونګه ده. سړی حیران شي چې ولې په یوه جغرافیه کې ـ د واکدارانو له نظره ـ په یوه نظام کې خو دلې، څو فکرونه او څو سرونه؟ په یوه سیمه کې تر شپږم ټولګي پورته نجونې ښوونځي ته تلای شي، او په بله سیمه کې بیا بندیز پرې لګېدلی دی.

تر یوکال څو ورځې واوښتې چې ترشپږم ټولګي پورته نجونې ښونځي ته له تګ منع کړای شوي دي. په یاده موده کې د زدکونکو د کورنیو، د واکدارانو د منتقدینو، نړیوالو رسمي او غیر رسمي بنسټونو، او ګڼو هېوادونو له خوا بېشمېره غوښتنې وشوې چې د نجونو د ښوونځیو دروازې پرانستل شي؛ خو ستونزه نه یوازې حل نه شوه، بلکې ورځ تربلې یې نور اړخونه پیدا کړل او نوره هم پسې پېچلې شوه او په دې تاويل ماویل کې د هېواد د نوي نسل د یوې برخې د زدکړو، ترېوکال ډېر وخت تلف شو.

افغانان او نړیوال هره ورځ سترګې پر لار وي چې واکداران به د حل یوه لاره پیدا کړي او د نجونو د ښوونځیو تړلې دروازې به پرانستل شي، خو...



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولـئ

په همدې تېره لنډه موده کې خلک او نړیوال د کندهار غونډې پورې خپلې هیلې غوټه کړې وې، په کندهار کې د طالبانو کومه لویه غونډه چې د ۲۰۲۲ ام کال اگست پر اتلسمه (۱۸ مه) نېټه جوړوه شوې وه، د هغې غونډې په پرېکړه لیک کې هم د نجونو د ښونځیو د پرانستلو مسأله نه ده یاده شوې او دا موضوع همداسې گونګه پرېښودل شوې ده:

بیا هم خلک ناهیلي شول او د چیز فهمه قلموالو خو فریادونه لکه د اور لوگي مخ په بره لاړل، دا یې یوه بېلگه_ده:

## پرې وزرې

ته پوهېږې؟

ما ته سپیني ورځې تکې تورې شپې دي

رانه سپیني د الوت وزرې پرې دي

ها وزرې چې مې هیلې له تیارونه تر رڼا وې

ها تیکرې سپین د مکتب مې یادومه

ها چې اوس مې ترې رنې اوښکې څڅېږي

ها چې اوس لکه کفن راته ښکارېږي

غبرگ غوړونه مې کانه دي

سږ مې زنگ د ښونځي اورېدای نه شم

سږ پر لور د رڼا پل اېښودی نه شم

سږ مې دواړه پښې پرې دي

سږ مې بندې د مکتب شنې دروازې دي

اخ زړه کې مې د درد ستنې کړې دي...

آمنه فنا

که د نجونو د ښووڼځیو دروازې همداسې بندې پاتې شي، لرې نه ده په چې ملي او نړاله کچه به افغانان وروسته پاتې او په هره نړیواله سیالی کې زیږ رنگي وي او ځان به کم احساسوي. استاد محمد تنها په دې برخه کې یو ښه د سترگو لیدلی هغه حال ثبت کړی دی چې پر ده باندې په یوه نړیواله غونډه کې تېر شوي دي:

«دلته د هستوي او وړانګو ساینس او تکنالوژي تطبیقاتو دویم نړیوال کانفرانس کې له ۹۰ هیوادونو ښځه ساینسوال خپلې څېړنې سره شریکوي، د افغانستان په استازولی هیڅوک نشته.

ډېر زور غواړي چې د نړیوال اتومي انرژي آژانس پخواني کارکوونکي درځخه پوښتي چې د افغانستان په استازیتوب راغلی یې؟ او زه ځټ وگروم چې نه.

هلته څلورواکي لا تر اوسه هم پدې کشمکش کې لگیا دي چې نجوني دې ښووڼځي ته ولاړې شي او کنه؟

- نړی گوره او مونږ گوره.»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزی بنی پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

خو اوس له دومره ممانعتونو سره ـ سره یو څه هیلي پیدا شوي دي چي تر شپږم ټولګي پورته به د نجونو ښوونځي پرانستل کېږي. له پرون نه را په دېخوا په میډیا کي د نجونو د ښوونځیو د پرانستل کېدو څو ناتایېد شوو خبرونو سر راښکاره کړ.
په ناتاید شوي خبرونو کي راغلي دي چي د «یو بام او دوې هواوې» پالیسی له مخي د هېواد په ځینو سیمو کي تر شپږم ټولګي پورته د نجونو ښوونځیو د پرانستل کېدو اجازه شوې ده:

سمیع الله حلیمي:

«د پکتیا ولایت په څمکنیو ولسوالی کي دانجونو د
(سمین اکبري) عالي لېسه
درې ورځي کېږي چي د 7 ) څخه تر ( 12ټولګیو پورې د زده کړې اجازه ورکړل شوه.»

عبدالجلیل لېوال:

«تکرار یې وایم: ټولنه یوازې مردسالاري نه شي بدلولی؛ د ټولني په فکري بدلون کي ښځه لویه ونډه لري!-
بلي زه خوشحاله یم. زما لپاره د نن ښه خبر همدا دی چي په ویاړمني پکتیا کي له شپږم پورته د نجونو پرمخ ښوونځي پرانستل شو-
زه هره شیبه ځان ته داد ورکوم. او باوري یم چي یوه ورځ به دې سرتاسري خویندو پرمخ ښوونځي پرانستل شي.
هو! یوازې لږ انتظار...»

جنتمیر ځدراڼ:

«زما لپاره د تېر څه د پاسه یو کال راهیسي د خوشحالی خبر:
پکتیا کي تر دوولسم ټولګي پورې ټول د نجونو ښونځي پیل شول.
سر چینه
پکتیا دیوهني ریاست»

د ناتایېد شوو خبرونو نه لږ ځنډ وروسته دا ناتایېد شوي خبرونه تایېد شول، نړیوالو معتبرو اژانسونو او ویبپاڼو ولیکل چي د افغانستان په ځینو سیمو کي ترشپږم پورته د نجونو ښوونځي پرانستل شول. دا د ځینو ویبپاڼو لنډ رپوټ دی:

بي بي سي **پښتو**:

«پکتیا ولایت کي تر شپږم پورته د نجونو ځیني ښوونځي بېرته پرانیستل شوي

تر شاوخوا یو کلن ځنډ وروسته د افغانستان د پکتیا ولایت په ځینو سیمو کي څو ښوونځي تر شپږم د پورته ټولګیو نجونو پر مخ بېرته پرانیستل شوي دي.

دا خبره لږ تر لږه د پکتیا مرکز ګردېز او څمکنیو ولسوالی ځینو ځایي خلکو بي بي سي ته منلي ده.

د پکتیا ولایت مرکز ګردیز یو اوسېدونکی عبدالحق فاروق وایي، خوښ دی چي د کور نجوني یې بېرته خپلو ښوونځیو ته رواني دي.

دی وایي، "مکتبونه خلاص دي، زموږ ماشومان له شپږم صنف پورته ټول ډېر په خوشالی باندې خپل مکتب ته ځي. خوشاله یو. دهر پلار او هري کورنی دا امید وي چي اولادونه یې د علم په زیور سمبال وي. زموږ لپاره، زموږ د ماشومانو لپاره او زما د هېواد د اینده لپاره دا موږ ټولو ته د ویاړ خبره ده. دا کار چي هر چا کړی وي، دې کي د ټول افغانستان خیر دی".

د پکتیا دوو نورو اوسېدونکو ایمل ښمر او فرید احمدزي هم بي بي سي ته وویل چي په سیمه کي یې د نجونو پر مخ تړلي ښوونځي پرانیستل شوي دي او هیله یې ښودلي چي دا لړی به دوام وکړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنی د لیکنیزی بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

دوی د خوښۍ د څرګندولو تر څنګ دا وېره هم ښودلي چي هسي نه د طالبانو حکومت چارواکي د دغو ښوونځیو د بیا تړلو امر وکړي.

د پژواک خبري اژانس هم پکتیا کي د ځایي چاروکو له خولي له شپږم ټولګي پورته د نجونو د ښوونځیو د خلاصېدو خبر ورکړی دی...»

**تاند:**

حقاني شبکي د پکتیا د نجونو تړل شوي ښوونځي بېرته پرانېستل

تاند:(سي شنبه،د سنبلي پینځلسمه) په ټولنیزو رسنیو کي ډېرو افغانانو په پکتیا کي له شپږم ټولګي څخه پورته ټولګیو ته د ښځینه زده کوونکو د زده کړو د بیرته هرکلی کړی او په دې اړه یې د ولس غوښتنو ته د ځایي طالب چارواکو د غاړه ایښودلو ستاینه کړې ده.

د پکتیا له یو شمېر سیمو څخه په خپرو شویو راپورونو کي د طالبانو ځایي چارواکو ویلي،چي د ښوونځیو د بېرته پرانیستل کیدو پریکړه ځایي خلکو او د ښوونځیو مسوولینو کړې ده.

د پکتیا د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست لپاره د طالبانو رییس خالق یار احمدزي هم تایید کړی چي د دغه ولایت د نجونو پر مخ د ښوونځیو دروازې بیرته پرانیستل شوي دي.

یو شمیر ځایي سرچینو تاند ته ویلي حقانیان، چي پر پکتیا ولایت حاکمیت لري، د نجونو د ښوونځیو د تړلو ښوونځیو د پرانیستلو ملاتړ کړی دی.
ویل شوي چي د طالبانو د یو محدود شمېر مشرانو له منفي نظر پرته د دوی یوه لویه برخه مشران د نجونو د ښوونځیو د پرانیستلو ملاتړ کوي.

د ډېرو نورو سیمو خلکو په ټولنیزو رسنیو کي د طالبانو له مشرانو غوښتي چي په عمومي ډول د خلکو او نړیوالو د خوشالی او د هېواد د پرمختګ لپاره د نجونو د زده کړو اجازه ورکړي.»

خو زما ویره دا ده چي د نجونو د ښوونځیو د پرانستل کېدو هیلي، د واکدارانو د خپلمنځي تضادونو ښکار نه شي او د تعلیم دا سپینه کوتره چي د څو سیمو په هوا کي وزرې غوړولي دي، بېرته یې د کوم ټوپک میل سیني ته ورسیخ نه شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ